# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**25قوس_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

د شهید خلیل الرحمن حقاني تقبله الله د فاتحې مراسم په ارګ کې ترسره شول ---------------------------------------1
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د شهید خلیل الرحمن حقاني تقبله الله د فاتحې په مراسموکې ګډون وکړ------------1
مراسم دعا و فاتحه خوانی بر روح شهید الحاج خلیل الرحمن حقانی در وزارت مهاجرین برگزارشد -------------------2
پیام تسلیت4
معین مالی و اداری وزارت امور مهاجرین: شهید خلیل الرحمن حقانی یک رهبر مهربان بود--------------------------4
ځینو ولایتونو کې د شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني د فاتحې او ختم مراسم ترسره شول -----------------------------5
اتحادیه اروپا و پاکستان در نشستی درباره مهاجران افغان گفت‌وگو کردند -------------------------------------------6
د بشار الاسد د رژیم له نسکورېدو سره سره، سوریایي کډوال خپل هېواد ته د تلو اجازه نه لري ----------------------7
انګلیس کانال کې د څو جلا عملیاتو پر مهال ۱۲۰ کډوال ژغورل شوي----------------------------------------------9
له بیلاروس څخه اروپا ته د کډوالو اوښتل؛ اروپايي کمیسیون پولنډ ته د پناه غوښتنې حق د ځنډولو اجازه ورکړې --10
دختر ۱۱ ساله، تنها نجات یافته از قایق غرق شده مهاجران---------------------------------------------------12

# متن کامل اخبار

## د شهید خلیل الرحمن حقاني تقبله الله د فاتحې مراسم په ارګ کې ترسره شول

آژانس اطلاعاتی باختر




د شهید خلیل الرحمن حقاني تقبله الله د فاتحې مراسم، د افغانستان اسلامي امارت د جګپوړو چارواکو، علماءکرامو او مجاهدینو په ګډون، د ارګ په جامع جومات کې ترسره شول.
د ارګ په خبرپاڼه کې راغلي دي: د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء ملا محمد حسن آخند، اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د کورنیو چارو وزارت سرپرست خلیفه سراج الدین حقاني، د ملي دفاع وزارت سرپرست مولوي محمد یعقوب مجاهد، د کابینې یو شمېر غړیو، ګڼو علماءکرامو او مجاهدینو نن ماسپښین د ارګ په جامع جومات کې د شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني تقبله الله د فاتحې او دعا په مراسمو کې ګډون وکړ.
د مراسمو ګډونوالو د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د مخکښني سرپرست شهید خلیل الرحمن حقاني تقبله الله روح ته دعا او هغه ته د الله (ج) له درباره د فردوس جنت هیله کړې ده.
په پکتیا هم د شهید خلیل الرحمن حقاني تقبله الله د فاتحې مراسم ترسره شول چې د اسلامي امارت د لوړ پوړو مقاماتو او مسئولینو په ګډون، ګڼ شمېر قومي مشرانو او مخورو، مجاهدینو او عامو خلکو په کې ګډون کړی و

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د شهید خلیل الرحمن حقاني تقبله الله د فاتحې په مراسموکې ګډون وکړ

آژانس اطلاعاتی باختر




**کابل، د لېندۍ ۲۴مه، باختر**
**د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر آخوند، د پکتيا په گرده څېرۍ ولسوالی کې د شهيد خليل الرحمن حقاني تقبله الله د فاتحې په مراسمو کې گډون کړی دی.**
**اقتصادي مرستيال د شهيد خليل الرحمن حقاني تقبله الله پاک روح ته دعا کړې او هغه يې يو پياوړی مجاهد او د ولس ريښتنی خدمتگار بللی او ويلي يې دي چې دا د اسلامي امارت لپاره يوه نه جبرانېدونکې ضايع ده.**
**د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال او د فاتحې نورو گډونوالو د شهيد د کورنۍ غړيو او د اسلامي امارت د کورنيو چارو سرپرست وزير خليفه سراج الدين حقاني ته د خواخوږۍ او غمشريکۍ مراتب وړاندې کړي او د خدای تعالی په دربار کې يې شهيد ته د فردوس جنت او وارثينو ته يې د جميل صبر هيله کړې ده.**
**د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزير شهيد خليل الرحمن حقاني تقبله الله، تېره چهارشنبه له غرمې وروسته د خوارجو په يوه ناځوانمردانه بريد کې شهيد کړای شو.**

## مراسم دعا و فاتحه خوانی بر روح شهيد الحاج خليل الرحمن حقانی در وزارت مهاجرين برگزارشد

ويب سايت وزارت



**مراسم دعا و فاتحه بر روح شهدا حادثه المناک روز چهارشنبه هفته گذشته، علی الخصوص شهید الحاج خلیل الرحمن حقانی وزیر پیشین امور مهاجرین و عودت کننده گان امارت اسلامی افغانستان، در مسجد مقر وزارت برگزارشد.**

**شیخ کلیم الرحمن فانی معین مالی واداری وزارت پیرامون شخصیت شهید حقانی صحبت نموده گفت: شهید الحاج خلیل الرحمن حقانی همه عمر خویش را در راه مبارزات و جهاد مقدس صرف نمود که بالاخره چنین درجه شهادت و عظمت نصیب وی شد.**

**وی شخص مهربان، دلسوز و دارای اخلاق نیکو بر همه بود یقیناً که نبود چنین شخص در میان ما جبران ناپذیر**

**است اما تقدیر و فیصله الهی چنین بود الله متعال درجات بلند را نصیب شهید حقانی نماید.**

**مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت نیز صحبت نموده درجه شهید را از دیدگاه آیات قرآنکریم بیان داشته گفت: نظام که شهید داشته باشد هرگز اسارت ندارد امارت اسلامی در دو دهه گذشته قربانی های زیادی را متحمل شده است که خانواده شهید حقانی نیز از این امر مستثنی نبوده دها تن از اعضای خانواده شهید حقانی در راه جهاد علیه اشغالگران به درجه شهادت نایل شدند.**

**آقای راشد در ادامه افزود: دشمنان بزدل به این فکر نباشد که با شهادت رساندن حقانی از دست آنان کاری خواهد شد برعکس با شهادت نظام ما بیشتر تقویت خواهد یافت و هزاران تن دیگر آماده خدمت به این کشور اند.**

**شهید حقانی یک شخص دلسوز، مهربان و بر همه شفقت داشت که نظیر آن کمتر بود الله متعال شهادت وی را قبول و برای بازمانده گانش صبر جمیل اعطا فرماید.**

**مراسم با اتحاف دعا بر روح شهید حقانی توسط مولوی محمد جان خدرخیل رییس دعوت و ارشاد وزارت به پایان رسید.**

## پیام تسلیت

ویب سایت وزارت

**انا الله و انا الیه راجعون**

**شهادت آروزی مردان بزرگ و مجاهدین است**

**با اندوه فراوان خبر ناگوار شهادت مظلومانه مجاهد، غازی دو دوره اشغال، رهبر و فرمانده نامدار را ه آزادی شهید الحاج خلیل الرحمن حقانی وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان را که تمامی مجاهدین و پیروان راه حق و آزادی را متأثر و داغدار نمود به کافه ملت مجاهد و شهید پرور مردم افغانستان تسلیت عرض مینمایم.**

**وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان ضمن محکوم نمودن چنین عمل زشت آن را شدیداً تقبیح و انجام چنین عمل بزدلانه را کار دشمنان قسم خورده صلح و همبستگی مردم افغانستان میداند نبود وی را یک ضایع بزرگ برای ملت مجاهد پرور افغانستان دانسته برای مرحوم حقانی صاحب بهشت برین و درجات الهی را استدعا و برای اعضای محترم خانواده حقانی صاحب، بازماندگان و تمامی مجاهدین راه آزادی صبر جمیل را از بارگاه ایزد منان خواهان است.**

## معین مالی و اداری وزارت امور مهاجرین: شهید خلیل الرحمن حقانی یک رهبر مهربان بود

ویب سایت وزارت






**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**مراسم ختم قرآنکریم بخاطر اتحاف دعا بر روح شهدا حادثه المناک دیروز علی الخصوص شهید الحاج خلیل الرحمن حقانی وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان امارت اسلامی افغانستان در مسجد مقر وزارت برگزارشد.**

**شیخ کلیم الرحمن فانی معین مالی واداری وزارت امور مهاجرین طی سخنانی از اخلاق نیکو مرحومی یاد آوری نموده گفت: شهید حقانی یک رهبر مهربان بود و جای خالی وی هیچگاه پر نخواهد شد وی بر علاوه انسانی نیک نام و خوش‌برخورد بود همچنان صداقت، ترحم، همدلی و پاک‌نفسی از دیگر ویژه‌گی‌های مرحوم حقانی خوانده می‌شد.**

**محترم فانی در ادامه افزود: تقدیر الهی چنین بود بزرگان زیادی از دنیا رفته اند تمنای شهید حقانی نیز بر شهادت بود الله متعال تقوا، عاجزی، جهاد، مبارزات و شهادت وی و همراهانش را به درگاه خویش قبول فرموده وی را با شهدای احد حشر نماید.**

**معین مالی واداری وزارت برای خانواده مرحومی و جمله مجاهدین از بارگاه ایزد منان صبر جمیل و برای شهید حقانی استدعا بهشت برین را نمود.**

## ځینو ولایتونو کې د شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني د فاتحې او ختم مراسم ترسره شول

د وزارت ویب سایت




**د تېرې اونۍ د پېښې د شهیدانو او په ځانګړې توګه د اسلامي امارت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو مخکني وزیر شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني د فاتحې او د ختم مراسم د مهاجرینو چارو وزارت په یو شمېر ولایتي ادارو کې ترسره شول.**

**د ننګرهار، کاپیسا، دایکندي، کندز، فراه ولایتونو د مهاجرینو چارو آمریتونو او د هرات ولایت د اسلام کلا له سرحدي آمریت څخه د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې د دغو ولایتونو د مهاجرینو په ادارو کې د دعا او ختم مراسم ترسره شول او د دغو ادارو مسولینو او کارکوونکو د شهید حقاني د جهادي دورې د کړنو او مبارزو یادونه وکړه.**

**نوموړی ته یې د جنت او کورنۍ ته یې د جمیل صبر غوښتنه وکړه.**

**دغه راز د هرات، بغلان، نورستان، لوګر، پروان، جوزجان، کونړ، تخار، بدخشان، بلخ، هلمند، پکتیکا ولایتونو او په ایران کې د مېشتو افغان مهاجرینو اتشې هم په خپلو پیغامونو کې د شهید حقاني کورنۍ ته د تسلیت مراتب وړاندې کړي دي.**

## اتحادیه اروپا و پاکستان در نشستی درباره مهاجران افغان گفت‌وگو کردند

طلوع نیوز

**بر اساس خبرنامه وزارت خارجه پاکستان، اتحادیه اروپا از راه‌حل پایدار برای مهاجران افغان در پاکستان پشتیبانی کرده است .**



**وزارت خارجه پاکستان می‌گوید که در چهاردهمین نشست کمیسیون مشترک اتحادیه اروپا و پاکستان، درباره مهاجران افغان نیز گفت‌وگو شده است.**

**بر اساس خبرنامه وزارت خارجه پاکستان، اتحادیه اروپا از راه‌حل پایدار برای مهاجران افغان در پاکستان پشتیبانی کرده است.**

**در این خبرنامه آمده است: «اتحادیه اروپا از تمدید اعتبار کارت‌های پی‌اوآر اتباع افغانستان در پاکستان تا ۳۰ جون ۲۰۲۵ استقبال کرد .اتحادیه اروپا همچنان حمایت خود را از استراتژی راه‌حل‌های پایدار برای مهاجران افغان و کشورهای میزبان اعلام کرده است«.**

**در سوی دیگر رسانه‌های آلمانی نیز به نقل از وزارت داخله کرواسیا گزارش داده‌اند که در ده ماه سال روان میلادی، بیشتر از ۲۶هزار مهاجر غیرقانونی وارد این کشور شده‌اند که بسیاری آن‌ها از افغانستان، سوریه، ترکیه، روسیه و مصر بودند.**

**یکی از این رسانه‌ها درباره معلومات وزارت داخله کرواسیا نوشته است: «در مجموع ۲۶هزار و ۵۳۴ عبور غیرقانونی مرزی در ده ماهه نخست سال جاری ثبت شده است و بیشتر این مهاجران اتباع افغانستان، سوریه، ترکیه، فدراسیون روسیه و مصر هستند«.**

**احسان احمدزی فعال حقوق مهاجران به طلوع‌نیوز گفت: «خواست ما از جامعه جهانی به‌ویژه اتحادیه اروپا این است که در این دو بخش توجه داشته باشند؛ یکی در بخش سرعت در کارهای کسانی که می‌خواهند به کشور سومی بروند، دوم به افغان‌هایی که یک ساله وقت که داده شده، با آن‌ها باید رفتار خوب شود«.**

**مهاجران افغان در کشورهای گوناگون به‌ویژه همسایه‌ها، می‌گویند که با چالش‌های جدی روبه‌رو اند.**

**جمال مسلم مهاجر افغان در ترکیه به طلوع‌نیوز گفته است: «بر بنیاد ادارات مهاجرپذیر که در کشورهای دیگر بودند، مانند ایالات متحده، مانند فرانسه و آلمان و دیگر کشورها، شماری دیگر هنوز هم از چالش‌های اقتصادی، افهام و تفهیم زبان و نداشتن اسناد در این سرزمین رنج می‌برند«.**

**محمدرضا سازش مهاجر افغان در پاکستان می‌گوید: «خیلی از مهاجرین افغان در این‌جا بی سرپناه و بی امکانات مانده‌اند و کسانی هم وجود دارند که چند سال است همین‌جا مانده‌اند، منتظر رفتن مانده‌اند و منتظر کارهای خود مانده‌اند؛ اما نتیجه نداشته«.**

**این در حالی‌ست که در ماه‌های اخیر، افزون بر کشورهای همسایه، مهاجران افغان در کشورهای اروپایی نیز با چالش‌های جدی روبه‌رو بوده‌اند. یکی از این کشورها آلمان است که در اواخر ماه اگست سال روان، ۲۸ افغان متهم به جرم‌های گوناگون را اخراج کرد.**

## د بشار الاسد د رژیم له نسکورېدو سره سره، سوریايي کډوال خپل هېواد ته د تلو اجازه نه لري

مهاجرنیوز




د بشار الاسد د رژیم له نسکورېدو وروسته په فرانسه کې ګڼ شمېر سوریایان پوښتنه کوي چې ایا کولی شي سوریې ته ولاړ شي که نه. د کډوالۍ د قوانینو له مخې، منل شوي کډوال خپل هېواد ته د تګ اجازه نه لري او که چېرې له دغې قاعدې څخه سرغړونه وکړي، ښایي قبولي ترې بېرته واخیستل شي .

د بشار الاسد د رژیم له ړنګېدو سره په فرانسه کې منل شوي سوریایي کډوال پوښتنه کوي چې ایا کولی شي د خپلو کورنیو او ملګرو د لیدلو لپاره سوریې ته ولاړ شي .

د دې پوښتنې ځواب منفي دی: که چېرې یو کس خپل هېواد کې د شته خطرونو له امله قبولي یا نړیواله ساتنه ترلاسه کړې وي، هغه بېرته خپل ټاټوبي ته نه شي ستنېدلی .

که څه هم په سوریه کې د بشار الاسد حکومت نور په مستقیم ډول خپل میلیونونه مخالفان ګواښولی نه شي، خو تر اوسه په دغه هېواد کې وضعیت روښانه نه دی. د فرانسې د بې تابعته وګړو او د کډوالو ادارې یا اوفپرا د بشار الاسد د رژیم تر سقوط وروسته اعلان وکړ چې سوریه کې «حالات په دقت سره څاري» او «د لنډمهال لپاره د پناه غوښتنې ځینې دوسیې» ځنډوي .

په فرانسه کې منل شوي کډوال سوریې ته د بېرته ستنېدو په صورت کې خپله قبولي له لاسه ورکولی شي. د پناه غوښتنې وکیل لوران دلبوس کډوال نیوز ته وایي چې د قانوني اړخه اوفپرا کولی شي چې د دغو کسانو قبولي بېرته واخلي .

ترکیه کې ۳ میلیونه او په فرانسه کې ۴۵ زره سوریایان

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو ادارې د شمېرو له مخې، له ۲۰۱۱ راهیسې د سوریې نیمايي وګړي یا ۱۳ میلیونه کسان د خپل هېواد پرېښودو ته اړ شوي دي .ډېرېو دغو سوریایانو ګاونډیو هېوادونو ته پناه وړې ده. ترکیه یو له هغو هېوادونو څخه دی چې تر ټولو ډېر سوریایي کډوال یې منلي دي: د ۲۰۲۴ په پای کې له ۳ میلیونو څخه زیات سوریایان په ترکیه کې اوسېدل .

د اروپا په کچه بیا جرمني تر ټولو زیات سوریايي مهاجر (۷۸۱ زره) منلي دي. په سویډن کې ۸۷ او ۷۰۰ او په هالنډ کې ۷۹ زره کډوال ژوند کوي .

په فرانسه کې شاوخوا ۴۵۶۰۰ سوریايان اوسېږي چې د دغه هېواد د نفوسو ۰،۰۷ سلنه جوړوي .

د یادولو ده چې د بشار الاسد د رژیم له نسکورېدو سره سم ګڼ شمېر اروپايي هېوادونو اعلان وکړ چې د سوریايي پناه غوښتونکو د دوسیو په اړه پرېکړې ځنډوي. د اتریش حکومت بیا وویل پلان لري چې سوریايي کډوال اخراج کړي .

د پاریس د سیانس پو پوهنتون استاذه اېلېن تیولې وايي: «د کډوالو بېرته ستنېدنه یوه مسله ده، [بله مسله دا ده چې] یو جګړه ځپلی هېواد چې زېربنا نه لري څنګه خپل وګړي ادغام کړي.» د دغې کارپوهې په وینا، لومړی باید د سوریې ثبات ته پام وشي.

## انګلیس کانال کې د څو جلا عملیاتو پر مهال ۱۲۰ کډوال ژغورل شوي

مهاجرنیوز


© Gareth Fuller/PA/picture alliance

فرانسوي چارواکي وايي چې د پنجشنبې په ورځ يې انګلیس کانال کې د څو جلا عملیاتو په پایله کې ۱۲۰ کډوال ژغورلي دي. دغو کډوالو هڅه کوله چې د اوبو له لارې ځانونه برېتانوي سواحلو ته ورسوي .

**د فرانسي د مانش او شمالي سمندر قومنداني د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي دي چې د پنجشنبې په ورځ (د دېسمبر ۱۲) یې له ۴ کښتیو څخه ۱۲۰ کډوال ژغورلي دي. په اعلامیه کې راغلي دي چې په یوه کښتۍ کې ۶۴ کسان سپاره ول.**

**د سرچینې په وینا، ژغورونکو د ګرېولین په ساحلي اوبو کې ۵۲ کډوال او د ګران فور فلیپ په اوبو کې بیا ۶۴ تنه نور ژغورلي دي. د دواړو کښتیو ماشینونه په سمندر کې له کاره لوېدلي او کډوال یې له ستونزو سره مخامخ کړي وو .**

**د خايي رسنيو د راپورونو له مخې، فرانسوي چارواکو په ویسان سیمه کې هم دوه کډوال ژغورلي چې اوبو ته دننه شوي وو او غوښتل یې چې کښتۍ ته پورته شي. سربېره پر دې، دوه تنه نور له سمندر څخه تر ژغورل کېدو وروسته بولونی بندر ته انتقال شوي دي .**

**دغو کډوالو په داسې حال کې بریتانیا ته د اوښتو هڅه کوله چې تېره اونۍ د تېزو بادونو له امله سمندري سفرونه نه وو ممکن. د برېتانوي چارواکو په خبره، په دغه موده کې کډوال برېتانیا ته نه دي رسېدلي .**

**د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت د شمېرو له مخې، د روان کال له پیل راهیسې څه باندې ۳۴ زره کډوالو د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانوي سواحلو ته رسولي دي. سږ کال انګلیس کانال کې د کډوالو لپاره تر ټولو مرګوني کال هم بلل کېږي: د ۲۰۲۴ د جنورۍ له لومړۍ نېټې راهیسې لږترلږه ۷۳ مهاجرو برېتانیا ته د اوښتو په هیله په دغه کانال کې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی**

**د امنیتي تدابیرو ډېرول**

**د فرانسې د کورنیو چارو مستعفي وزیر برونو روتایو د نومبر په ۲۹ امبلتوز ته د سفر پر مهال وویل د انګلیس کانال له لارې د کډوالو د نامنظمو سفرونو په اړه له لندن سره جدي خبرو ته اړتیا شته. هغه د شمالي سواحلو په اوږدو کې د امنیتي تدابیرو د ډېرېدو او د کډوالو په چارو کې د ځانګړي استازي د ګومارېدو خبر ورکړ .**

**دغه چارواکي همدا راز وویل چې له نامنظمې کډوالۍ سره د مبارزې مسولیت د او – دو – فرانس سیمې د دفاع او امنیت قومندان ونسان لګوګي ته سپارل کېږي.**

**برونو روتایو له برېتانیا څخه غوښتنه وکړه چې د خپلې پولې د ساتلو دنده فرانسې ته ونه سپاري. هغه زیاته کړه چې »برېګزیت د برېتانیا له حکومت سره ټولې مهاجرتي اړیکې له منځه یوورې»، له همدې کبله اوس برېتانیا ته د کډوالو د ورتګ لپاره یوې داسې «قانوني لارې «ته اړتیا شته چې «د اقتصادي او یا د کورنیو د یو ځای کېدو پر معیارونو برابره وي.«**

**نوموړي ټینګار وکړ چې د لندن او پاریس ترمنځ د توکې په تړون باید بیا کتنه وشي. د دغه سند له مخې، چې په ۲۰۰۳ کې لاسلیک شوی دی، کالې ښار د برتانیا د سرحد په توګه پېژندل کېږي. که څه هم د توکې د تړون له لاسلیک کېدو راهیسې د فرانسې او برېتانیا حکومتونو د کډوالو د سفرونو د مخنیوي لپاره بېلابېل تړونونه لاسلیک کړي دي، خو دغو توافقونه برېتانیا ته د تلونکو کډوالو مخه نه ده نیولې .**

## له بېلاروس څخه اروپا ته د کډوالو اوښتل؛ اروپايي کمیسیون پولنډ ته د پناه غوښتنې حق د ځنډولو اجازه ورکړې

مهاجرنیوز



د بېلاروس او فنلنډ له لارې اروپا ته د کډوالو د اوښتو له ډېرېدو سره سم، اروپايي کميسيون پولنډ او يو شمېر ختيځو اروپايي هيوادونو ته د دې اجازه ورکړه چې د هغو پناه غوښتنکو د پناه غوښتنې حق وځنډوي چې بېلاروس او روسيه يې د اروپا پر ضد د « وسيلې» په توګه کاروي.

اروپايي کميسيون د چهارشنبې په يوه اعلاميه کې وويل چې د بېلاروس له لارې اروپا ته د اوښتونکو کډوالو شمېر د تېر کال په پرتله په ۲۰۲۴ کال کې ۶۶ سلنه ډېر شوی. اروپايي کميسيون تل تور پورې کړی چې بېلاروس او روسيه کډوال دې ته هڅوي چې د اروپا پولو ته واوړي تر څو له دغې لارې اروپايي هيوادونه بې ثباته کړي.

اروپايي کميسيون په خپله اعلاميه کې پولنډ او د اروپا په ختيځ کې نورو هيوادونو ته اجازه ورکړې چې په موقتي ډول د هغو پناه غوښتونکو د پناه غوښتنې حقونه و ځنډوي چې د دوې په باور له دغو پناه غوښتونکو څخه روسيه او بېلاروس د اروپا د بې ثباته کولو لپاره د « وسيلې» په توګه ګټه پورته کوي.

په اعلاميه کې راغلي چې "د ګواښ جدي ماهيت او همدارنګه د هغې دوام ته په پام سره" د اروپايي کميسيون غړي هيوادونه کولای شي په استثنايي او لنډ مهاله ډول د نړيوال محافظت د ترلاسه کولو لپاره د پناه غوښتنې حق و ځنډوي.

د اروپايي کميسيون اجرايوي مرستيالې هينا ويرکود چهارشنبې په ورځ په دې اړه وويل چې د پناه غوښتنې حق بندول بايد يوازې هغه وخت ترسره شي چې دوې د اروپايي غړو هيوادونو ته ګواښ رامنځ ته کړي. نوموړې وايي چې د پناه غوښتنې حق ځنډول بايد په استثنايي ډول، لندمهاله، متناسب او د واضح تعريف شوي قضيو لپاره وي.

له دې وړاندې په اکتوبر مياشت کې د پولنډ لومړي وزير ډونلډ ټسک يوې غونډې ته ووېلي و چې غواړي «په جزيي توګه» د پناه غوښتنې حق وځنډوي. نوموړی له اروپايي ټولنې څخه غوښتنه کړې وه چې د پناه غوښتنې حق د ځنډولو پرېکړه په رسميت و پېژني .

په ورته مهال اروپايي ټولنې د خپلو پولو د کنټرول لپاره له د روسيې او بيلاروس سره پر پوله اروپايي هيوادونو سره د نويو مرستو اعلان کړی.

د اروپايي کميسيون اجرايوي مرستيالې په دې اړه وويل چې کميسيون پولنډ، فنلنډ، استونيا، لاتويا، ليتوانيا او همدارنګه ناروې ته ۱۷۰ ميلونه يورو ورکوي ترڅو دوې د کډوالو د مخنيوي لپاره پر خپلو پولو کنټرول ډير او ګڼ شمير تجهيزات وکاروي.

اروپايي کميسيون پر داسې مهال دغه پريکړه کوي چې د افغانانانو په ګډون ګڼ شمير کډوال د بيلاروس له لارې پولنډ او نورو اروپايي هيوادونو ته د اوښتو هڅه کوي. سربير پر دې د روسيې له لارې فنلنډ ته هم په دې وروستيو کې د کډوالو د اوښتو هڅې ډيرې شوې وې چې له دې سره فنلنډ له روسيې سره خپلې ټولې پولې و تړلې.

## دختر ۱۱ ساله، تنها نجات یافته از قایق غرق شده مهاجران

دویچه وله




یک دختر ۱۱ ساله که از آب‌های نزدیک یک جزیره ایتالیایی نجات داده شده، گفته است که او یکی از ۴۴ نفری است که از تونس سوار قایق شدند و بعداً قایق شان غرق شد. او گفته که سه روز روی آب بوده است.

بر اساس گزارش‌ها بعد از واژگونی یک قایق مهاجران در سواحل جزیره لامپدوزای ایتالیا، ظاهراً از ۴۴ سرنشین آن تنها یک تن جان سالم به در برده است.

سازمان امدادی آلمانی «کومپاس کولکتیو» که این دختر را روز چهارشنبه از آب نجات داد، می‌گوید که این کودک ۱۱ ساله گفته است که قایق سه روز پیش غرق شده است.

این سازمان امدادی که در ماموریت نجات مهاجران از آب‌های مدیترانه شرکت دارد، گفته است: «به نظر می‌رسد که این دختر تنها کسی است که از این رویداد جان سالم به در برده و ۴۴ تن دیگر غرق شده اند».

خدمه کشتی نجات «تروتامار سه» حدود ساعت ۲ نیمه شب چهارشنبه در حالی که عازم یک موقعیت اضطراری دیگر بودند، در تاریکی صدای فریاد این دختر را شنیدند.

سازمان امدادی آلمانی «کومپاس کولکتیو» افزوده است: «این دختر ۱۱ ساله از سیرالئون از سه روز به این سو با دو جلیقه نجات پر شده از هوا و یک جلیقه نجات ساده بر روی آب شناور بوده است».

روزنامه «لا ریپابلیکا» گزارش داده است که یک داکتر ایتالیایی بعد از معاینه این دختر احتمال داده که او حدود ۱۲ ساعت در دریا شناور بوده است.

به گفته امدادگران، این دختر توضیح داده است که قایق از تونس حرکت کرده و در طوفان غرق شده است. سازمان امدادی «امید مدیترانه «گفته است که این دختر ۱۱ ساله اکنون در شفاخانه به سر می‌برد و در حال بهبودی است .

خبرگزاری انسا در ایتالیا گزارش داده است که کشتی‌های گارد ساحلی و پولیس روز چهارشنبه به منطقه‌ای که این قایق پناهجویان غرق شده است، رفتند، اما تا کنون نه جسد و نه هم اثر دیگری از این رویداد یافت نشده است.